# پښتو ناول

## (د یوولسم ستمبر ۹/۱۱ نه پس)

# Pashto Novel(After 9/11 incident)

Mazhar Ahmad*

**ABSTRACT.**

On September 11, 2001, the falling towers of the 110 story World Trade Center rocked the entire globe. The incident casted its effects in every walk of life including literature. The impressions of September 11 occurrence and its consequences have found its way to all creative genres of Pashto literature, but they are much broad and deep in Pashto novel. The themes of pre-9/11 Pashto novel include Pashtun social life, village community structures, enmities and hostilities, cultural traditions, tribal issues and so on. New themes, new issues and new style moved in into Pashto novel and it got a new form and fresh point of view. This study is an analysis of that changed perspective and new shape of the Pashto novel.

ادب همېشه د قامونو او اولسونو د سماجي شعور، رومان او کلتور، سیاسي او معاشرتي هلوځلو او ټولنیزو عواملو ترجماني کوي. د تاریخي پېښو او ټولنیزو عواملو عکس د ادب په آئینه کښې کېدل په هر دور کښې د ژوندي ادب بنیادي غوښتنه ګڼلے شوې ده. د پښتو ادب په تاریخ که نظر واچولے شي نو معلومه به شي چې د پښتو ادب د وړومبۍ ورځې نه د تاریخي حادثو، جنګي مهماتو او پښتنو د کارنامو ترجمان پاتې شوے دے. د دې اصلي وجه داده چې ژوندے ادب همېشه د خپل ماحول، ټولنې او د خپل دور

* PHD Research Scholar, Department of Pashto, University of Peshawar

د اولس ترجماني کوي. پښتون د نړۍ په مخ یو داسې قوم دے چې تاریخ کښې عموماً د مهماتو ، حادثو ، جنګي کارنامو او مختلفو واقعاتو د داستانونو نه ډک پاتې شوے دے او هم دغه وجه ده چې د پښتو ادب هم د دغه اولس د تاریخي کارنامو او ټولنیزو عواملو عکاس پاتې شوے دے.

په یولسم ستمبر دوه زره او یو (۹/۱۱) د امریکې په یو سل لس منزله د سوداګرۍ نړیوال مرکز (World Trade Center) حمله یوه داسې پېښه ده چې دا به همېشه د نړۍ په تاریخ کښې د یوې غمجنې او دردمنې ورځ په توګه یاد ساتلے شي. په ټوله نړۍ کښې دا ورځ اوس یوه اصطلاح ګرزېدلې ده چې د ۹/۱۱ په نوم یادېږي.

ددې پېښې اثرات نۀ یوازې په امریکه او نورو غربي هېوادونو پرېوتي دي بلکې د برصغیر ګڼ شمېر قامونه اوهېوادونه هم ترې ډېر په شدت سره اغېزمن شوي دي. د نظم یا شاعرۍ سره سره د دغه پېښې د اثراتو عکس د نړۍ په ادب کښې په مجموعي توګه او د پښتو په ادب کښې په خصوصي توګه په نثري اصنافو کښې هم لیدے شي. د پښتنو د معاشرتي ژوند ، سیاست، اقتصاد ، مذهب او ټولنیز ژوند نه علاوه د پښتو ژبې په ادبیاتو د دې پېښې اثرات ډېر ژور ښکاري. د دې پېښې د اثراتو په حقله ډاکټر حنیف خلیل صېب لیکي:

> ''۹/۱۱ کے واقعہ نے پاکستان کی تقریباً تمام بڑی زبانوں حتیٰ کہ پاکستان میں انگریزی زبان میں تخلیق ہونے والے ادب اور مجموعی طور پر انگریزی ادب پر گہرے اثرات مرتب کئے ' چونکہ اس واقعہ کا براہ راست تعلق پشتونوں کی سیاست ' ادب اور جغرافیہ سے ہے ' لہٰذا سب سے نمایاں طور پر اس کا عکس اور اس واقعہ سے جنم لینے والے اثرات و عوامل کی تصویر پشتو زبان میں تخلیق ہونے والے ادب میں نظر آتی ہے ''۔[۱]

ژباړه: د یوولسم ستمبر (۹/۱۱) پېښې د پاکستان تقریباً په ټولو لویو ژبو، تردې چې په پاکستان کښې د انګرېزۍ ژبې په تخلیق شوي ادب خپل اثرات غورزولي دي. چونکې د دې پېښې نېغ په نېغه تړون د پښتنو سیاست، ادب او

جغرافيې سره دے نو ځکه د دې پېښې نه د پېدا شوؤ اثراتو او عوامل عکس د پښتو ژبې تخليق شوي ادب کښې په نظر راځي۔
د نړۍ د هرې ژبې په ادب کښې په نثري اصنافو کښې ناول يو داسې صنف دے چې د مافوق الفطرت (Supernatural) عناصرو نه ئې د افسانوي ادب مخه انساني مسئلو او ټولنيزو عواملو پله کړې ده۔ په پښتو کښې چې کوم ناولونه ليکلي شوي دي هغه نۀ صرف د هر قسمه مافوق الفطرت عناصرو نه پاک او انساني ژوند د حقيقتونو ترجمان دي بلکې په پښتو کښې د هغو داستانونو کوم باقاعده روايت هم په نظر نۀ راځي کوم کښې چې د پېريانو، دېوانو، ښاپېرو او کوهِ قاف په مافوق الفطرت عناصرو اډانه لري۔ البته دې کښې شک نشته چې ناول په بنيادي توګه د داستان نه زېږدلے صنف دے چې د ټولنيزو عواملو د ترجمانۍ په بنيادي سبب ورته ناول يعنې نوے شے، نوے انداز او د افسانوي ادب نوے شکل وئيلے شوے دے۔ داستان د تاريخي او انساني حقيقي پېښنو نه څومره لرې وي او ناول د انساني تاريخ د حقيقي واقعاتو تر کومه حده ترجماني کوي؟ د دې بنيادي نکتې وضاحت ډاکټر حنيف خليل صيب د داستان او ناول تر مېنځه د بنيادي فرقونو په شکل کښې کوي او ليکي!

> ''داستان او ناول کښې وړومبے فرق دا دے چې داستان د ژوند د رښتينو واقعاتو نه لرې د مافوق الفطرت، پيريانو ديوانو، ښاپېرو وغېره د واقعاتو څرګندونه کوي۔ او ناول د انساني ژوند د حقيقي پېښنو ترجماني په فني پېرايه کښې کوي''۔[۲]

اوس چې مونږ ته دا څرګنده شوه چې په نثري اصنافو کښې ناول بنيادي صنف دے چې د ټولنيزو عواملو او د انساني تاريخ د مختلفو پېښنو ترجماني کوي نو په دغه تناظر کښې مونږ په پښتو ناول کښې د يوولسم ستمبر ۹/۱۱ د اهمې تاريخي پېښې عکس لټوؤ او ګورو چې په پښتو ناول د دې پېښې اثرات څۀ دي؟

۱. **او کاروان روان شو:**

''پښتو ناول کښې د زمکني حقيقتونو، جنګي صورتِ حال، د افغانستان او پښتنې سيمې د تاريخي پېښو او سياسي مسئلو او د ۹/۱۱ نه پېدا شوي صورتِ حال تصويرکشي ګڼو ناول نګارو کړې ده خو دې لړ کښې د ټولو نه مهم ناول د ډاکټر محب وزير "او کاروان روان شو" دے۔ دا ناول په فني او فکري دواړو اړخونو ښهٔ کامياب دے۔ دے ناول کښې د يولسم ستمبر نه پس د پښتنو د قامي کشالو عکس ډېر په فني پېرايه کښې ښکاره کړے شوے دے او په عالمي او علاقائي تناظر کښې ددې کشالو څرګندونه کړے شوے ده۔ د يولسم ستمبر (۹/۱۱) نه پس زمونږ په ځوان کهول کښې د خپلې بقا سوچ د وړاندې نه په تېزۍ سره پېدا شوے دے۔ په ناول کښې د نوي نسل يو څو زلمي او پېغلې د يو داسې تنظيم بنياد کېږدي چې پکښې د پښتون قام د کشالو څرګندونه وشي او په معاشره کښې د فرد د کردار لاړښودنه وکړے شي۔ د ناول مرکزي کردار ډاکټر آمون د خپل تنظيم پېژندګلو په دې ډول کوي۔

> ''مونږ قامي مرکه کوؤ، مونږ يو سياسي، ثقافتي او ادبي کانفرنس نهٔ کوؤ، بلکې مونږ قامي مرکه کوؤ او په دغه قامي مرکه کښې به د قام د هر اړخيزو مسئلو او ستونزو په مفصل انداز جائزه اخلو، ددې دپاره به مونږ په ملک کښې دننه او د ملک نه بهر د پښتنو دانشورانو او سکالرانو نه کومکونه غواړو چې دوي د خپلو خپلو څانګو په لړ کښې تحقيقي څېړنې وکړي، په سائنسي بنيادونو د مسئلو او ستونزو بنيادونه ولټوي او د هغې د حل کولو څهٔ لارې ګودرې هم وګوري''۔[۳]

د دې ناول کردارونه او چاپېرچل د يوولسم ستمبر نه پس په دې سيمه د روانو کشالو څرګندونه کوي۔ ناول نګار د پښتنو نوي نسل ته دا پېغام ورکول غواړي چې د موجوده ټولو کشالو او ستونزو حل د دوئ خور وور وجود بيرته

سره راټولول دي ـ زما په خيال د يوولسم ستمبر نه پس چې کوم ناول د دې غمېزې زړه پورې نمائندګي کوي نو هغه ''او کاروان روان شو'' دے ـ

۲. **تربوزک**:

د دې لړۍ بل اهم ناول د طاهر اپريدي "تربوزک" دے چې د جرس ادبي جرګې له خوا په کال ۲۰۱۱ء کښې چاپ شوے دے ـ دا ناول په داسې وخت کښې مخې ته راغلے دے چې د ۹/۱۱ د واقعې پوره لس کاله شوي دي ـ د ناول موضوع په مکمله توګه د يولسم ستمبر د پېښې احاطه کوي ـ نامور ترقي پسند دانشور ښاغلي سليم راز د دې ناول په سريزه کښې د ناول د واقعاتو تفصيلي جائزه وړاندې کړې ده چې پکښې د ۹/۱۱ د پېښې نه پېدا شوي انتشار او بدامنۍ ته هم اشارې شوي دي او د دغه پېښې نه مخکښې د پښتنو په سيمه اړې ګړې ته هم اشارې شوې دي ـ سليم راز صېب د دغه ناول د مجموعي مزاج او پېغام وضاحت داسې کوي:-

> '' ''تربوزک'' يو لوئے تاريخي، سياسي او عالمي پس منظر لري چې د مشرۍ د وجود په اوږو ئې د عالمي سامراج بدرنګه او پمنه څهره ده او په حقيقت کښې د عالمي قوتونو د منافقت او سياسي چالونو او فرقه پرسته انتهاپسندو د تنګ نظره عملونو د درپرده اشتراک يوه نۀ شلېدونکے اولس دښمنه سلسله ده ـ او د سائنس او ټېکنالوجۍ په دې روښانه صدۍ کښې د جهل، توهم او بنياد پرستۍ د تورمخو سالارانو د رېا، علم او امن خلاف غليظه عالمي اېجنډه ده ـ چې په علاقائي سطح ئې د خپلو زر خريده ايجنټانو په مرسته او ښودنه د عقيدې، مسلک، فرقې، تفرقې، نفرت، سياست، اقتصاد او اقتدار وغېره په مختلفو شکلونو کښې عملي کوي ـ او د علاقايې او مقامي حالاتو، سماجي، سياسي تعلقاتو، ذهني

سطحې او فکري تعصباتو مطابق دا خونړۍ لوبه د خپلو سیاسي کارډارانو، د ګرېټ ګېم د لوبغاړو او د پټ مخو د ډرامې د اداکارانو په ذریعه روانه ساتلې ده''.[۴]

طاهر اپریدے د ناول د مرکزي خیال په توګه دا خبره په ګوته کوي چې د پښتنو په خاوره د جهاد لړۍ د یولسم ستمبر (۹/۱۱) نه وړاندې هم روانه وه خو د یولسم ستمبر (۹/۱۱) نه پس دې ډېر په تېزۍ سره وده وموندله ـ دا ناول په مجموعي توګه د یولسم ستمبر د غمېزې نه ګېرچاپېره چورلي چې پکښې د ځانمرګي بریدونو او د ډرون نه علاوه د پښتنو په زمکه د مقامي او بېن الاقوامي قوتونو نه پرده پورته کړې شوې ده ـ

''او کله چې د ډرون د سیني نه غبرګ توغندے په ډکه جرګه راګزار شو نو هم دغه وخت مشرانو، ملکانو یوه امن کمېټي جوړه کړې وه او په شریکه ئې پرې "امین" وئیلي ؤو۔ په جرګه کښې دغه فېصله شوې وه چې په تورو نقابونو کښې مخ پټې تربوزک وهلي د تورو شپو علامت، د دین او ایمان په نوم شر خوښوؤنکي به کلي ته او خپلې خوښې ته هرګز نۀ پرېږدو ـ او نۀ به د سرکار په نوم جاسوسي کوؤنکي خپلې خوښې ته ازاد پرېږدو''.[۵]

د ۹/۱۱ د پېښې نه وړاندې او د دغه پېښې نه وروستو چې د القاعده، طالبانو او جهادي تنظیمونو او د امریکې، نېټو او نورو سامراجي قوتونو په ښښتو کښې د پښتنو د سیمې څهره څومره زخمي زخمي شوه دغه پس منظر ناول نګار په خپل ناول "تربوزک" کښې بیان کړے دے ـ

### ۳. جنت کوټ:

د یوولسم ستمبر د پېښې په تاثر کښې د افغانستانلیکوالې وړمه سبا عامر د "جنت کوټ" په نوم یو مهم ناول لیکلے دے ـ دا ناول ښغ په ښغه د یوولسم ستمبر (۹/۱۱) د پېښې په ترخ کښې لیکلے شوے دے او په بشپړه

توګه ددې پښتنې نمائندګي کوي۔ په ناول کښې "جنت کوټ" د يو داسې ودانۍ نوم ښودلے شوے دے چرته چې ماشومان د ځان مرګې بريدونه د پاره تيارولے شي او د نوؤ عملياتو د پاره پکښې ترکيبونه جوړولے شي۔ ځوانانو ته د ځانمرګي بريد کولو په بدل کښې د جنت د حورو خوبونه ورښودلے کېږي۔ ګل بناته چې په ناول کښې يوه کونډه ښځه ښودلې شوې ده، يک يو ځوئے يې وي۔ چې کله کمانډر هغه ځانمرګي بريد ته تيار کړي نو ګل بناته کمانډر ته لاړه شي او خپل سر سرتور کړي او په زاريو ورته اووائي:

"د خداى پاردى. ايکى يو زوى مې دو، کونډه ښځه يم، مه مې ميراته وه، هغه له فدايي نه رابهر کړه۔

کمانډر د هغې پوړنی د هغې په سر کړ او ورته يې وويل:

ببو غم مه کوه، دا زمونږ د ټولو ليار دو (لار ده)"۔[۲]

هغه په دې ناول کښې د وزيرستان د زنانؤ ذکر کوي او بيا دې جنګ کښې هغه واقعاتو ته هم اشاره کوي چې طالبان او القاعده په افغانستان کښې په څهٔ رنګ له عمليات کوي او څنګه مقامي طالبان د القاعده د غړو حکمونو ته سر ښکته کوي۔ هغې په دې ناول کښې فدائي کوُنکو زلمو ته هم اشارې کړې دي۔ ناول نګارې د "خپلې خبرې" تر عنوان لاندې ددې ناول په حقله خپله رائې داسې ورکړې ده:

"ما خپل جنت کوټ د هغو خوېندو او مېندو په نوم ډالۍ کړے چا چې په ځانمرګي بريدونو کښې د خپلو زړونو ټوکرې له لاسه ورکړې۔ زما د جنت کوټ لوې پېغام اولس او نړيوالو ته داد ے چې په دې تور او بې نومه جنګ کښې تر هر چا زيات ښځې متاثره شوې او کېږي، د چاځوئے چې ځان الوزوي هغه هم يوه مور ده، او د چا ځوئے چې د ځانمرګي بريد ښکار ګرځي، هغه هم يومور ده، دلته دواړه مېندې له درد نه

تېرېږي، په دې هیله خپلې خبرې پائے په رسومه چې هېڅ یوه مور دې د خپل ځوئي درد او مرګ نور نهٔ ویني"[۷]

وړمه سبا عامر په دې ناول کښې د افغانستان د موجوده جنګ منظرکشي ډېر په خوندور انداز کښې کړې ده ـ دې ناول د یوولسم ستمبر (۹/۱۱) نه پس په پښتنه سیمه د ترهګردۍ په مکمله توګه احاطه کړې ده ـ

## ٤. سګوان:

د بلوچستان پښتنو لیکونکو کښې فاروق سرور د "سګوان" په نوم یو ناول لیکلے دے ـ دا ناول هم د یولسم ستمبر (۹/۱۱) د غمېزې نمائندګي کوي ـ او ددې پېښې په تاثر کښې لیکلے شوؤ ناولونو کښې یو مهم ناول دے ـ ماماګے ددې ناول مرکزي کردار دے چې پکښې د هغه ټولو هېوادونو دښمن ښودلے شوے دے کوم چې د پښتنو په زمکه موجود دولت باندې قبضه کول غواړي ـ اود بادار کردار پکښې د دغه هېوادونو د مشر په توګه ښودلے شوے دے ـ کله چې یوه شپه بادار زمونږ د زمکې نه قېمتي شیان (یاقوت، زمرد، سرهٔ زر وغېره) راوباسي نو کوندل اکا (چې ډېر هوښیار انسان وي) ورته وائي:

".....هغه دې ویې ګوره چې مشر یې ځومره لوئے غل دے، دغه دے ددهٔ تهذیب، کلتور او سوکالي چې د نورو کور ورسپېرهٔ کړي، بلکه زهٔ به ودهٔ ته غل هم نه د دنیا تر ټولو لوئے سګوان ووایم چې د نړۍ په ټول کمزورو کلو کښې یې زورور سپي ساتلي دي، روزنه او پالنه یې کوي او د هغو پهٔ مرسته د هغو ولاتو دولت او خزانې لوټي" ـ[۸]

د مرکزي خیال په توګه ناول نګار دا خبره واضحه کول غواړي چې د یولسم ستمبرپېښه د برصغېر په زمکه موجود دولت باندې د قبضې کولو یوه لوبه ده ـ

٥. **ځانمرګے:**

د یولسم ستمبر (۹/۱۱) په اړه یو بل مهم ناول د محب الله زغم ''ځانمرګے'' دے ـ دا ناول په بنیادي توګه د هغه فدائي (ځانمرګي) ځوانانو په موضوع لیکلے شوے دے کوم چې د پښتنو په سیمه د اسلام او جهاد په نوم تیارولے شي ـ په ناول کښې عبدالستار (چې د راوي کردار ادا کوي) مرکزي کردار لوبوي ـ نعماني صېب چې د عبدالستار د مدرسې مهتمم او استاذ وي، تنکي تنکي ماشومان د ځانمرګي برېدونو د پاره تیاروي ـ د ناول مرکزي کردار عبدالستار چې کله ځانمرګي برېد ته تیار شي نو د نعماني صېب په حقله وايي:

> ''پر سبايې د کابل پر لور روان شو، د خدای پاماني پر وخت نعماني صاحب راته وویل:ګوره بچی! شهادت عجیبه خوند لري، چې سنګه د استشهادیه عملیاتو زای له ورغلې، د جنت هوا به درباندې ولګیګي ـ خوشالۍ به درله رایشي، ټول غمونه به دې هېر شي ـ هغه راته یو خاصه دعا هم راوښووله، چې د حملې پر وخت یې ووایم'' ـ[۹]

د مرکزي خیال په توګه ناول نګار دا واضحه کول غواړي چې د یوولسم ستمبر نه پس د پښتنو په سیمه جهادي ګوندونه د ځانمرګي بریدونو د پاره ځوانان څۀ رنګ له تیاروي ـ د محب الله زغم د دے ناول واقعات او ماحول هم د یوولسم ستمبر د پېښې نه ګېرچاپېره چورلي او په دې موضوع لیکلي شوي ناولونو کښې یو مهم ناول دے ـ

٦. **ولسمشر ما وژلے:**

د یوولسم ستمبر نه پس چې په دې موضوع کوم ناولونه مخې ته راغلي دي په هغې کښې د افغانستان د ځوان لیکوال آرش تنګیال ولسمشر ما وژلے هم

ددې پېښې نمائندګي کوي. داناول (ناولټ) که څۀ هم لږې ډېرې فني کمزورۍ لري خو بیا هم د یوولسم ستمبر د پېښې په اړه ډېر ښۀ په ښه لیکلے شوے دے. د ناولټ مرکزي کردار توریالے وي چې یو فوجي افسر وي. یوه شپه یې په کور برید وشي چې اولاد یې پکښې وژلے شي. توریالے د بدل اخستو د پاره د طالبانو تنظیم سره ملګرے شي، توریالي ته د ولسمشر وژلو منصوبه ترغاړې کړے شي چې توریالے یې په کامیابۍ سره سرته ورسي. توریالے د ولسمشر په حقله په ناول کښې وائي:

"ددې جمهور رئیس وژل زما نه بلکې د ټولو افغانانو ارمان ؤ. افغانانو په دې باور درلود چې دا جمهور رئیس به افغانستان ته سوله او پخلاینه راوړي ، خو پوهان په دې پوهېدل چې دا رئیس جمهور به د هېواد جرړې وباسي". [۱۰]

په ناول کښې د پښتنو د بدل اخستلو د کلتوري نفسیاتو د څرګندولو هڅه شوې ده او ښکاره کړے شوې ده چې پښتانۀ څۀ رنګه ځانمرګي بریدونو ته تیار شي. ډاکټر محب وزیر هم ددې ناول په حقله دې خبرې ته اشاره کړې ده:

"د دغه ناول په فلاسفي کښې دا ښودل شوي دي چې د یولسم ستمبر نه پس نړیوال ځواکونه د پښتنو د بدل د اخستلو د کلتوري نفسیاتو په اړه د پوهنې په لاز کښې ناکام شوي دي. د دغه نړیوالو ځواکونو له خوا د بې ګناه اولس د تفتیش د سختو مرحلو نه راتېرولے شي او سختې سزاګانې ورکولے شي. د هغې په ترڅ کښې هغه اولس د خپل بدل اخستلو د پاره د طالبانو سره ملګري شي. هغوي بیا ځان مرګي بریدونو ته هم تیار شي، هغوي بیا ځان او جهان دواړه لوګے کوي، خو بدل اخلي" [۱۱]

۷. **نېنځک:**

نینځک ددې لړۍ یو بل داسې ناول دے چې د یوولسم ستمبر په تاثر کښې مخې ته راغلے دے. دا ناول ځوان لیکوال حیات روغاني لیکلے دے. دې ناول کښې د ښځونکو د ژوند بشپړه احاطه شوې ده او ورسره په پښتنې ټولنه کښې د ښځونکو د نفسیاتي ستونځو جائزه اخستلے شوې ده. د ناول ماحول د یوولسم ستمبر د غمېزې نمائندګي کوي. د پښتنو په سیمه ترهګرۍ او بدامنۍ ته پکښې په تنقیدي نظر کتلے شوي دي. په ناول کښې د چاؤدنو او ځانمرګي بريدونو عکاسي شوې ده.

''په پوله د ورانکارو خوځښت نړیوالو ځواکونو ته په نمر پرېوتیزو قبائیلي سیمو د ډرون الوتکو د بريدونو لار سمه کړې، او ورانکارو ته ئې په پوله دننه چاؤدنو او ځانمرګي بريدونو کولو کښې د وینې تویولو جواز ورکړے''.[۱۲]

دا ناول هغه ټول واقعات په ګوته کوي کوم کښې چې بې ګناه خلق په چاؤدنو او ځانمرګي بريدونو کښې ژوند له لاس ورکوي. ناول کښې د داسې قسم واقعاتو ډېر په فن سره عکاسي شوې ده:

''ناڅاپه یو لوي ګړځ شو او دغه ګړځ نور ټول زوږونه ځان کښې ونغښتل، تک تور لوغړن لوګي خوارۀ شول او دغه لوګي په خپل سر اخستې لمبې اوچتې شوي. د ګړځ د غږ ناستې سره اوس دغه زوږ د یرې، ترهې او ځړیکې رنګ واخستلو. خبرې اوس چغې شوې وې. چاپېره غوښې خورې وې. دغه غوښو کښې د وګړي او ځاروي غوښه پېژندل ګران شوي وو''.[۱۳]

دا ناول په فني او فکري توګه يو کامياب ناول دے۔ ناول کښې د پښتنو په زمکه روان اړي ګړي ته ښۀ په تنقيدي نظر کتلے شوي دي۔ او دا هڅه شوې ده چې لوستونکو ته ددې سيمې هغه ټولو کشالې وړاندې کړے شي کومې چې د دې غمېزې په ترخ کښې رامخې ته شوې دي۔

۸. **ښائستو**:

ديولسم ستمبر(۹/۱۱) نه پس په پښتو ناول نګارو کښې يوه اهمه نامه د افغانستان د نامور ناول ليکونکي سعدالدين شپون مخې ته راځي۔ افغانستان او پښتنو سيمو کښې د ۹/۱۱ نه پېدا شوي صورتِ حال باندې شپون صېب د "ښائستو" په نوم يو ناول ليکلے دے چې په فروري ۲۰۱۰ء کښې دانش خپروندويه ټولنې چاپ کړے دے۔ ددې ناول د مرکزي خيال په حقله ډاکټر محب وزير په خپل کتاب "په پښتو ناول او افسانه د يوولسم ستمبر اثرات" کښې ليکلي دي چې!

> ''البته ''ښائستو'' ناول ئې په خپله لمنه کښې د دغه پېښې اثرات لري۔ دغه ناول هم د هغۀ د وړاندېنو ناولونو په څېر يو مترقي ماحول لري او هم د خواصو د طبقې نمائنده۔ د ناول قيصه د هغو افغانانو څخه چاپېره چورلي، چا چې د افغانستان په دې پوره غميزه کښې د بېلا بېلو ايجنسيو لکه کے جي بي، آئي ايس آئي او سي آئي اے د پاره په مختلفو محاذونو کارونه کړي دي او بيا د وخت سره څنګه څنګه بدل شوي دي۔ د دغو کردارونو نظرياتي بدلونونه هم د يولسم ستمبر نه پس ته مخې ته راغلي دي''۔[۱۴]

دا ناول په پنځوسو (۵۰) څپرکو مشتمل دے چې په وړومبي څپرکي کښې ئې د ناول د مرکزي خيال پېژندګلو کړې ده او د ۹/۱۱ د پېښې هغه پس منظر ته ئې اشاره کړې ده چې د سيمې د اړي ګړي اندازه ترې کېږي۔ ناول په ۲۰۱ صفحو مشتمل دے چې د شپون صېب کردار پکښې صرف د يو راوي نۀ دے

بلکې د يو مشاهده کونکي او د واقعاتو نه متاثره انسان کردار دے ـ دا ناول په دغه وجه هم ډېر اهم دے چې ناول نګار د ۹/۱۱ نه پېدا شوؤ واقعاتو د عېني شاهد حېثيت لري ـ

**نتيجه:**

د تېرو بحثونو په نتيجه کښې مونږ ته جوته شوه چې د ۹/۱۱ د پېښې نه پېدا شوي اثرات په ناول کښې ښۀ په واضحه توګه ښکاري ـ د ۹/۱۱ دپېښې نه مخکښې چې پښتو ادب کښې کوم ناولونه ليکلي شوي دي د هغې عمومي موضوعات د پښتنو اولسي ژوند، کليوال معاشرت، دشمنۍ، تربګنۍ او قبائلي مسئلې پاتې شوې دي ـ د ۹/۱۱ پېښې د پښتو ناول موضوعات بدل کړل ـ څۀ ناولونه په عمومي توګه د افغان جنګ او د پښتنې سيمې د بدامنۍ د اثراتو په نتيجه کښې وليکلے شول او څۀ پکښې داسې ناولونه هم مخې ته راغلل چې په خصوصي توګه ئې د ۹/۱۱ نه د پېدا شوؤ حالاتو احاطه وکړه ـ ددغه ارتقاء په سفر کښې مونږ ته ډېرې فني او فکري تجربې هم په نظر راځي ـ په تېر بحث کښې د پښتو ناول د نوي بدل شوي هيئت او ماهئيت جائزه اخستلے شوې ده ـ د دغه ناولونو د جائزې نه پس دا نتيجه مخې ته راغله چې د ۹/۱۱پېښې نه څنګه چې ټول پښتون اولس متاثره شوے دے، دغسې ترې د پښتو ناول نګار هم متاثره شوے دے او هم په دغه تناظر کښې د پښتو ناول نوي موضوعات، نوې مسئلې او نوے اسلوب پښتو ادب ته راداخل شو ـ د پښتو ناول د دې پېښې نه پس نوے رُخ او نوے شکل اختيار کړو ـ ځکه مونږ په خصوصي توګه د پښتو ناول په باره کښې وئيلے شو چې د يوولسم ستمبر نه پس د پښتنو په ټولنيز ژوند دا صنف د يو انقلابي بدلون سره مخ شوے دے ـ په پښتو ناولونو کښې دغه بدلون مونږ دې نتيجې ته هم رارسوي چې پښتون ليکوال حساس، ويښ او باله نظره دے ـ پښتون ناول نګار په خپل ماحول، ټولنه او ټولنيزو بدلونو ډېر ژور نظر لري او دغه ټول حالات او بدلونونه د خپل ادب برخه جوړوي کومو چې په پښتون اولس ډېر ژور اثرات پرېباسلي دي ـ

# حوالي


۱ حنيف خليل، ډاکټر، پشتو غزل پر ۱۱-۹ کے اثرات، پاکستاني زبان و ادب پر ۹/۱۱ کے اثرات، ادارۂ ادبيات اردو و فارسي جامعه پشاور، ۲۰۱۰ء، ص ۱۱۸

۲. حنيف خليل، پښتو ناول، باګرام پښتو ادبي جرګه پېښور، ۲۰۰۰ء ، ص ۱۹

۳. محب وزير، اوکاروان روان شو، کراچۍ، چغرزي پبلشرز، جون ۲۰۰۸ء، ص ۱۱۹

۴. سليم راز، پرده پورته کېږي، تربوزک، طاهر اپريدے، جرس ادبي جرګه کراچۍ. ستمبر ۲۰۱۱ء، ص ۲-۳

۵. طاهر اپريدے، تربوزک، جرس ادبي جرګه کراچۍ. ستمبر ۲۰۱۱ء، ص ۳۰-۳۱

۶. عامر، ورمه سبا، جنت کوټ، ناشر ندارد، کابل افغانستان، ۲۰۱۰ء، ص ۴۵

۷. عامر، ورمه سبا ، ص ۲

۸. محب وزير، ډاکټر، په پښتو ناول او افسانه د يوولسم ستمبر اثرات، پښتونخواه مطالعاتي مرکز باچا خان پوهنتون چارسده، ۲۰۱۵ء ص ۲۳

۹. محب الله زغم، ځانمرګے، ناشر ندارد، ځائے ندارد، ۲۰۰۹ء، ص ۷۸

۱۰. آرش ننګيال، وولسمشر ما وژلے، ګودر خپروندويه ټولنه، ۲۰۰۹ء، ص ۷۲

۱۱. محب وزير، ډاکټر ، ص ۷۵

۱۲. حيات روغانے، نينځک، عربستان پښتو ادبي ټرون الرياض سعودي عرب، اګست ۲۰۱۲ء، ص ۱۲۵

۱۳. حيات روغانے، نينځک ، ص ۱۷۳

۱۴. محب وزير، ډاکټر ، ص ۵۸